# په کاناډا کې لوړو زده کړو ته د کډوالو لاسرسی:
## په برېټیش کلمبیا کې د نوي راغلي افغانانو د ټولنې د قضیې مطالعه


**چمتو کوونکي**

**ډاکټره صوفیا نوری**

د UBC پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي پروفیسور او لومړنی پلټونکی

**آسیه محمد**

د ښوونې او روزنې ماسټرۍ محصله او د څېړنې مرستیاله

**مینه نیکمل**

د اداره او منجمنت ماسټرۍ محصله او د افغانانو د ټولنې تنظیم کوونکی او ژباړونکې

**الهه صافی**

د Safi Association for Humanity مشره او د SFU پوهنتون د ماسټرۍ محصله



**ملاتړي نهادونه**

Safi Association for Humanity

DiverseCity

Abbotsford School District

مالی ملاتړي

John H. M. and Doris D. Andrews Research and Development Award

**۲۰۲۶**

*وروستی راپور*

**په کاناډا کې لوړو زده کړو ته د ګډوالو لاسرسی:**

**په برېټیش کلمبیا کې د نوي راغلي افغانانو د ټولنې د قضیې مطالعه**


*"پروسه ډېره سخته او پیچلې وه. باید موږ ته د دې په اړه لا زیات معلومات راکړل شي چې څنګه درخواست ورکړو، چیرته درخواست ورکړو، له چا سره خبرې وکړو، د ښوونځي د فیسونو د ورکړې لپاره پیسې چیرته پیدا کړو او څنګه د قرضې (پور) لپاره غوښتنه وکړو. د هغو ویب سایټونو په اړه لارښوونه به ډېره ګټوره وي چې باید وکارول شي. د دې ټولو ترڅنګ په داسې ګران ځای لکه برېټش کولمبیا کې د ژوند کولو فشار ډېر زیات دی."*

***د افغان سروې ځواب ورکوونکی***

دا څېړنیزه مطالعه د کاناډا د برېټش کلمبیا (BC) په لوئر مینلېنډ کې د افغان نوو راغلو کسانو له خوا لوړو زده کړو ته د لاس رسي موضوع څېړي. د دې پروژې موخه دا وه چې د سروې له لارې هغه خنډونه وپېژني، او د مرکې پوښتنو له لارې دا وارزوي چې افغان نو راغلي څنګه د دغو ننګونو پر وړاندې برلاسي کېږي. د ګډونوالو ځوابونه چې په دې راپور کې وړاندې شوي، داسې لیدلوري او سپارښتنې وړاندې کوي چې کولی شي په کاناډا کې د افغان ګډوالو د لوړو زده کړو لاسرسی ښه کړي، په ځانګړې ډول د برېټش کولمبیا د تعلیمي سیستم په چوکاټ کې. همدارنګه، موږ د عامه زده کړو او د ټولنې پر بنسټ د ملاتړ خدماتو او سرچینو په اړه معلومات هم وړاندې کوو چې د دغو نوو راغلو کسانو سره د هغوی د لوړو زده کړو د بریالي بشپړولو په لاره کې مرسته کوي.

**ګډونوال:**

د ۲۰۲۴ د اګست څخه تر ۲۰۲۵ د جنوري پورې ټولټال ۷۱ د سروې ځوابونه راټول شول. ټول ۷۱ ګډونوال د ۱۸ کلونو څخه پورته عمر لرونکي وو، په برېټش کولمبیا کې اوسېدل، او د افغانستان څخه وه یا د افغان شالید لرونکي وو. له دې ګډونوالو څخه ۳۰ نارینه او ۴۱ ښځینه وې، او هېڅ یوه ځان غیر دوه جنسه نه و معرفي کړی.




د ګډونوالو د برېټش کلمبیا ته د راتګ پر مهال عمرونه له ۹ کلونو څخه تر ۴۰ کلونو پورې وو، چې منځنی عمر ۲۷ کاله او تر ټولو ډېر تکرار شوی عمر ۲۵ کاله و.

د دوی په کاناډا کې د اوسېدو موده د سروې د اخیستو پر مهال له ۱۰ میاشتو څخه تر ۱۱ کلونو پورې وه، چې اوسط یې ۲.۴۹ کاله او تر ټولو ډېر تکرار شوی ۲ کاله و.

له ګډونوالو څخه ۲۸٪ یې په برېټش کولمبیا کې عامه لېسه لوستې وه او ۴۴٪ یې د لویانو لېسه لوستې وه.

دا ښیي چې افغان نوو راغلو کسانو لوړو زده کړو ته د داخلېدو پر مهال ډېری وخت لیسه له کاناډا څخه بهر بشپړه کړې وي، که څه هم ډېری یې په دغه ولایت کې له موجودو عامه تعلیمي سیستمونو څخه هم استفاده کوي.

د سروې پایلې ښیي چې کاناډا ته راغلي افغانانو د لوړو زده کړو د تعقیب لپاره ډېر لوړه انګېزه لري. له ګډونوالو څخه ۹۰٪ ویلي چې دوی د لوړو زده کړو د تعقیب لپاره په ډېر شدید ډول لېوالتیا لري، ۷٪ یې لېواله وو، او هېڅ یوه ګډونوال د لوړو زده کړو د تعقیب لپاره د بېعلاقه‌ګۍ راپور نه دی ورکړی.


د ګډونوالو د تر ټولو لوړې تعلیمي کچې پایلې په شکل ۱ کې ښودل شوې، چې څرګندوي نږدې ۷۵٪ یې له راتګ څخه مخکې د ډیپلوم او د درجې پروګرامونه بشپړ کړي وو.

د سروې د پایلو پر بنسټ، ډېرو افغان نوو راغلو کسانو د انګلیسي ژبې قوي مهارت هم راپور کړی (جدول ۱).

| برخه اخیستونکو د ځان ارزول شوي د انګلیسي کچه | خبري کول | لوستل | لیکل |
|---|---|---|---|
| لوړه کچه | ۵۱٪ | ۴۹٪ | ۳۹٪ |
| منځمحاله | ۴۵٪ | ۴۶٪ | ۵۵٪ |
| نوښتګر | ۶٪ | ۴٪ | ۶٪ |

**جدول ۱:** دغه جدول د سروې معلومات وړاندې کوي چې پکې ګډون کوونکو د انګلیسي ژبې په ویلو لوستلو، او لیکلو کې د خپلې پوهې کچه (عالي، متوسط، یا پیل عادي) ښودلې ده.

په برېټش کلمبیا کې د لوړو زده کړو د تعقیب لپاره تر ټولو لوړې انګېزې د نارینه وو او ښځینه وو ترمنځ توپیر درلود (انځور ۲). د ښځو لپاره درې مهمې انګېزې دا وې: د خپل اوسني کار لپاره د مهارتونو لوړول، د ښه معاش لرونکي کار ترلاسه کول، او د داسې مسلک تعقیب چې دوی ورته ډېره لېوالتیا لري. د نارینه‌وو لپاره درې مهمې انګېزې دا وې: د عمومي ژوند فرصتونو زیاتول، د داسې مسلک تعقیب چې دوی ورته لېوالتیا لري، او په برېټش کلمبیا کې د داسې تعلیمي فرصتونو څخه ګټه اخیستل چې په افغانستان کې موجود نه وو.




د دغو انګېزو او د ژبې مهارتونو پر بنسټ، افغان نو راغلي داسي انګېري چي دوی د لوړو زده کړو د تعقیب لپاره ښه موقعیت لري؛ خو په عین حال کي داسي سیستمیک خنډونه شته چي دوی باید د خپلو تعلیمي موخو د ترلاسه کولو لپاره له هغو سره مقابله وکړي.


**ننګوني:**

د غوښتنلیک پروسه د افغان نوو راغلو کسانو لپاره ګڼي ستونزي رامنځته کوي. د سروې پایلي ښيي چي ۵۵٪ ګډونوالو هڅه کړي وه چي په برېټش کولمبیا کي محلي کالجونو ته درخواست ورکړي، ۱۹٪ يي غوښتنه نه لرله یا اړتیا يي نه احساسوله چي کالج ته لاړ شي، او ۲۶٪ يي غوښتل درخواست ورکړي خو د بهرنیو شرایطو له امله بریالي نه شول.


د برېټش کلمبیا د پوهنتونونو په اړه، ۵۷٪ ګډونوالو هڅه کړې وه چي درخواست ورکړي، ۲٪ يي غوښتنه نه لرله یا اړتیا يي نه احساسوله چي پوهنتون ته لاړ شي، او ۴۱٪ يي غوښتل درخواست ورکړي خو د بهرنیو شرایطو له امله نه وو توانېدلي.

د سروې د ترسره کېدو پر وخت، ۴۲٪ ګډونوال په برېټش کولمبیا کي په یوه لوړه تعلیمي پروګرام کي شامل وو. دا هڅي ښيي چي افغان نو راغلي یوازې لیوالتیا او انګېزه نه لري، بلکي په فعاله توګه هڅه کوي چي په ولایت کي لوړو زده کړو ته داخل شي.

ګډونوالو د لوړو زده کړو د غوښتنلیک، داخلي او بشپړولو په پړاوونو کي بېلابېل خنډونه راپور کړي دي. اصلي عوامل چي د لوړو زده کړو ادارو ته د درخواست ورکولو پروسه يي ستونزمنه کړې وه، عبارت وو له لوړ غوښتنلیک لګښتونه، د پروسي په اړه ناکافي معلومات، او د عملي او مستقیم ملاتړ نشتوالی (انځور ۳).





همدارنګه؛ مالي ملاتړ یا بورسونه نشتون، د شاملېدو پروسې سره د لارښونې یا ملاتړ نشتوالی، او د داخلي غوښتنلیک شرایطو پوره کولو توان نلرل د نوم لیکنې او شاملیدو پروسې کې ستونزې ښودل شوي (انځور ۴) .




د داخلې وروسته هغه خنډونه چې د ګډونوالو د پروګرامونو د بشپړولو مخه یې نیوله، شامل وو د لوړو فیسونو او محدود مالي ملاتړ، د ادارې له دفترونو څخه د ملاتړ کم احساس، او دا چې هغوی نه پوهېدل څنګه له استادانو او تدریسی مرستیالانو سره اړیکه ونیسي (انځور ۵).

دا پایلې ښیي چې په برېټش کولمبیا کې نو راغلي د لوړو زده کړو د سفر په هر پړاو کې — له غوښتنلیک څخه نیولې تر بشپړولو پورې — له مالي او سیستمیکو خنډونو سره مخ دي.




**چاپېريالي او شخصي عوامل:**

ګډونوالو په برېټش کلمبیا کې د خپلو لوړو زده کړو پر مهال بېلابېل چاپېريالي او رواني/ذهني ننګونې راپور کړې چې د هغوی پر اکاډمیکو او ټولنيزو تجربو يې اغېز درلود. د چاپېريالي ننګونو له مخې، ۴۶٪ ګډونوالو د خدماتو او ملاتړ د نشتوالي يادونه وکړه، ۴۶٪ يې د اړيکو جوړولو او ملګرو پيدا کولو کې ستونزه درلوده، او ۳۹٪ يې د سرچينو او ملاتړونو په اړه د عمومي معلوماتو نشتوالی ياد کړ.

سربېره پر دې، ۳۶٪ افغان نو راغلو ګډونوالو د خپل قومي هويت له امله د تبعيض تجربه کړې، ۲۹٪ يې تعليمي سيستم ډېر فرديمحور يا سيالیمحور وباله، او ۲۰٪ يې عمومي کلتوري توپيرونه تجربه کړل.

ګډونوالو همدارنګه يو شمېر رواني او احساساتي ننګونې شريکې کړې. تر ټولو عامې راپور شوې ستونزې وې: د يوازېوالي او انزوا احساس (۳۸٪)، د ښوونځي او کار د مسؤليتونو د توازن په اړه اضطراب (۳۶٪)، او د ښوونځي او کورنۍ د مسؤليتونو د توازن په اړه اضطراب (۳۵٪). ځينو نورو ګډونوالو دا هم ويلي چې په برېټش کلمبيا کې تر راتګ وروسته يې د خپلو تمو په اندازه لاسته راوړنې نه دي کړې (۳۵٪)، د ټولګې د کار له امله تر فشار لاندې وو (۳۵٪)، او دا چې نشي کولی خپل علمي اهداف په هغه سرعت ترلاسه کړي چې دوی تمه لرله (۳۱٪).

دا موندنې څرګندوي چې چاپېريالي او رواني ننګونې، د مخکينيو ياد شويو سيستمي خنډونو ترڅنګ، په برېټش کولمبيا کې د افغان نو راغلو زده کوونکو د زده کړې ژوند کيفيت ته مهم اغېز لري.

ډېرې ګډونوالو راپور ورکړی چې په برېټش کلمبيا کې د بيا مېشتېدو يا غيرانتفاعی سازمانونو له خوا د نوو راغلو کسانو لپاره د تعليمي سيستم د پوهېدو په برخه کې محدود ګډون لري. کله چې د هغو پروګرامونو په اړه پوښتنه وشوه چې د بيا مېشتېدو يا غيرانتفاعی سازمانونو له خوا وړاندې کېږي ترڅو د ولايت تعليمي سيستم ښه وپېژني، ۷۱٪ ګډونوالو وويل چې

دوی د هېڅ پروګرام په اړه معلومات نه لري، ۱۴٪ وویل چې دوی د پروګرامونو په اړه پوهېدل خو استفاده یې ترې نه ده کړې، او یوازې ۱۵٪ له دې پروګرامونو څخه استفاده کړې وه. دا موندنې ښیي چې اړتیا شته د هغو پروګرامونو په اړه پوهاوی او لاسرسی زیات شي چې د نوو راغلو کسانو سره د برېټش کولمبیا د لوړو زده کړو په ښه درک او لار موندنه کې مرسته کوي.

له ۷۱ ګډونوالو څخه ۲۹ یې په اوس وخت کې په برېټش کولمبیا کې په یوه لوړه تعلیمي پروګرام کې شامل دي (لکه کالج، پوهنتون، مسلکی زده کړې او نور)، او ۳۸٪ ګډونوالو خپل پروګرامونه په بریالیتوب سره بشپړ کړي دي، چې ښیي د افغان نوو راغلو کسانو لپاره د لوړو زده کړو ترلاسه کول د هغو ننګونو سره سره ممکن دي چې دوی ورسره مخ دي. د دې څېړنې معلومات د ملاتړ او سرچینو اړتیا روښانه کوي ترڅو د هغو نوو راغلو کسانو د بریالیتوب چانس زیات شي چې غواړي په برېټش کولمبیا کې لوړو زده کړو ته لاسرسی ومومي.

د نوو راغلو کسانو د مخامخ خنډونو تر پېژندلو سربېره، د دې سروې موخه دا هم وه چې د ښه لاسرسي او غوره پایلو لپاره سپارښتنې راټولې کړي؛ دا سپارښتنې په راتلونکې برخه کې وړاندې کېږي.

**سپارښتنې:**

لاندې د هغو وړاندیز شویو اقداماتو لست دی چې د سروې د ګډونوالو له ځوابونو څخه په مستقیم ډول اخیستل شوی، د یوې خلاصې پوښتنې په ځواب کې چې پوښتنه یې دا وه: کوم ډول ملاتړ به د لوړو زده کړو ته د لاسرسي او بشپړولو په پروسه کې ستاسو بریا اسانه کړي؟

**۱. د تعلیمي سیستم او فرصتونو په اړه پوهه**

۱.۱. د شخصي اکاډمیک او مسلکي مشورې برابرول ترڅو افرادو ته لارښوونه وشي چې څنګه خپلو پخوانیو مسلکونو ته بېرته ستانه شي یا نوي مسلکونه وڅېړي.

۱.۲. له افرادو سره مرسته کول چې خپلې ستونزې له منځه یوسي او هغوی ته مناسبې سرچینې وښودل شي.

۱.۳. د ټاکل شویو مسلکي لارو، خنډونو او فرصتونو په اړه وضاحت ورکول، او دا چې څنګه له مناسبو لارښودانو سره اړیکه ونیسي.

**۲. منظم او حضوري انګلیسي ټولګي**

۲.۱. د انګلیسي ژبې داسې منظم حضوري ټولګي برابرول چې عملي او اکاډمیک مهارتونو ته تمرکز ولري.

۲.۲. د زده کړې داسې چاپېریال جوړول چې زده کوونکي په واقعي حالتونو کې تمرین وکړي، لکه فورمې ډکول، مرکې ورکول، او په ډلهییزو بحثونو کې ګډون کول.

**۳. د نوو راغلو کسانو د کورنیو هېوادونو د مهارتونو ګټه اخیستل**

۳.۱. د مهارتونو ارزونه برابرول ترڅو د هغوی وړتیاوې وپېژندل او تایید شي.

۳.۲. د مسلکونو لپاره د نښلولو سیسټم را منځ ته کول، لکه فارمسستان، ډاکټران او ښوونکي، څو د جواز اخیستلو پروسه چټکه او لږ درنه شي.
۳.۳. عملي او تطبیقي روزنې ته تمرکز کول ترڅو افراد په اسانه ډول خپلو مسلکي دندو ته انتقال ومومي.

**۴. د ملاتړ او ریفرنس لیکونو د ترلاسه کولو فرصتونه برابرول**

۴.۱. د منتورشیپ  پروګرامونه جوړول چې نوو راغلو کسانو ته اجازه ورکړي د خپلو اړوندو مسلکي برخوله متخصصینو سره اړیکه ونیسي.
۴.۲. د انټرنشپونو او رضاکارانه فرصتونو برابرول ترڅو محلي ریفرنسونه او شبکې جوړې شي.

**۵. د والدینو او کورنیو ملاتړ**

۵.۱. ارزانه او د لاس رسي وړ د ماشومانو د ساتنې پروګرامونه د انعطاف وړ ساعتونو سره جوړول.
۵.۲. ډاډ ترلاسه کول چې د ماشومانو د ساتنې مرکزونه کلتوري حساسیت ولري او یو خوندي او ملاتړ کوونکی چاپېریال برابر کړي، څو والدین وکولای شي پرته له اندېښنې خپلو زده کړو یا کارته تمرکز وکړي.
۵.۳. د رواني روغتیا ملاتړ برابرول د داسې مشاورینو له لارې چې د افغان نوو راغلو کسانو له ننګونو سره بلد وي او کلتوري درک و لري.
۵.۴. د کورنیو لپاره داسې ورکشاپونه وړاندې کول چې د کاناډا کلتور سره د یو ځای کېدو په اړه وي.

**۵.۵. د ماشومانو د K–12 زده کړو په اړه ملاتړ او سرچینې**

د ماشومانو د K–12 زده کړو چه اړه معلوماتي سرچینې برابرول ترڅو زده کوونکي وکولای شي د ښوونځي سیستم سره ښه عادت شي او والدین وکولای شي د خپلو ماشومانو د تعلیمي بریالیتوب په برخه کې خپل رول ښه درک کړي.

**۶. د سپټلمنټ کارکوونکو د پوهې لوړول د کاناډا او بریټیش کلمبیا د تعلیمي سیستم په اړه**

۶.۱. د سپټلمنټ کارکوونکو لپاره مسلکي روزنه برابرول ترڅو له نوو راغلو کسانو سره مرسته وکړي چې خپلې هیلې او موخې پوره کړي، نه دا چې یوازې د ژر مېشتېدو لپاره له خپلو تعلیمي اهدافو تېر شي.
۶.۲. د لوړو زده کړو د لارو په اړه روزنه ورکول ترڅو سپټلمنټ کارکوونکي وکولای شي نوو راغلو کسانو ته سم او دقیق لارښوونه وکړي.
۶.۳. د هغو ادارو یا کورسونو یو لست جوړول چې د نوو راغلو کسانو مالي او د وخت اړتیاوو ته مناسب وي، په ځانګړي ډول د هغو کسانو لپاره چې لوړې زده کړې غواړي.

**۷. د پروګرامونو انعطاف پذیری مهال ویش**

۷.۱. داسې پروګرامونه طرحه کول چې انعطاف پذیر مهال ویش ولري، لکه د ماښام او اونۍ پای ټولګي، څو د بېلابېلو اړتیاوو سره برابر وي.
۷.۲. د ځان محور زده کړې انتخابونه برابرول د هغو کسانو لپاره چې د نورو مسؤلیتونو له امله زیات وخت ته اړتیا لري.
۷.۳. د فشار مدیریت او د شخصي، مسلکي او تعلیمي اهدافو ترمنځ د توازن جوړولو په اړه ورکشاپونه وړاندې کول.

**د بریالیتوب عوامل:**

مرکو د دې په اړه لا ډېر ژور او دقیق درک وړاندې کړ چې کومې ځانګړې پوهې، سرچینې او د اشخاصو ملاتړ، د لوړو هیلونو تر څنګ، ګډونوالو سره مرسته وکړه څو په بریالیتوب سره کالج او/یا پوهنتون ته لاسرسی ومومي، داخل شي او خپل پروګرامونه بشپړ کړي. یوازې د سروې له ګډونوالو څخه څلور کسانو په مرکو کې برخه اخیستې وه.

جدول ۲ د هغو عواملو لنډیز وړاندې کوي چې دوی یې د خپل بریالیتوب لپاره اړین بللي وو.

| غوښتنلیک | داخلي اخیستل | بشپړول |
|---|---|---|
| ● د هدف او انګېزې روښانه احساس درلودل<br>● د پروګرامونو انتخاب ته د چمتووالي او پلان جوړوني له لارې ستراتېژیکه نږدې کېدل<br>● د سپارښت لیکونو د ترلاسه کولو لپاره له شخصي او مسلکي شبکو سره مشوره کول<br>● د مؤسسو له کارکوونکو او ملاتړکوونکو خدماتو سره فعال رول اخیستل او اړیکه ساتل<br>● د پالیسیو او اسنادو د وضاحت لپاره د تعقیب له لارې دوامداره اړیکه ساتل | ● د داخلي پروسې لپاره له مخکې ښه چمتووالی<br>● د پوهنتون له سیستمونو څخه فعال استفاده د لارښووني، کورس پلان جوړوني، ثبتنام او مالي ملاتړ لپاره<br>● د پوهنتون له کارکوونکو لکه اکاډمیک مشاورینو او ډیپارټمنټي مشاورینو سره روښانه او دوامداره اړیکه ساتل<br>● د اړتیاوو، پالیسیو او هر ډول سیستمیکو ننګونو په وړاندې قوي د ځان-استازیتوب درلودل | ● د ځان-انګېزې او مقاومت درلودل<br>● نوي اکاډمیک چاپېریال او د زده کړې اړتیاوو ته د عادت کېدو لیوالتیا<br>● د وخت مدیریت ستراتېژیو کارول<br>● د دې منل چې د اکاډمیکو مسؤلیتونو لپاره قرباني ورکول او بشپړه ژمنتیا اړینه ده<br>● د ټول تعلیمي سفر په اوږدو کې د باخبره پرېکړو کولو هڅه |